عاشقان داسلام چېري نه وېرېږي
که په مخ کي بي ولاړ د اراورسن وي
:شاعر په دي وینا باندي ځان پوه کړي
هغه څوك چي سخن فهمه دګفتن وي
اي منصفه د وطن حقوق په ځاي کړه
خدمت وکړه څو چي روح دي په بدن وي

په افغانستان کې داسلامي ښوونې او روزنې دمرکزونو تاریخي سیر

لیکوال: «هاشمي»

د ابو مسلم مدرسه:

دا مدرسه په ۱۳۱۵ هجري لمریز کال دفارياب ولایت په مرکز میمنه کي دخلکو په مالي مرستـه جوړه او دابو مسلم خراساني په نوم ونومول شوه دروسته بي اداري او تدریسي چاري دهغه ولایت دښوونې او روزنې دلوي مدیریت او مرافعي محکمي پوري وتړل شوي. دغي مدرسي په لومړیو کي دابتدایي او منځني دوري زده کړي له پاره زده کوونکي منل کله چي مدرسه رسمي شوه نو زده کړي بي هم ثانوي دوري ته لوړي شوي. په دغه وخت کي بي دزده کړي له پاره شاګردان له پنځم ټولګي څخه منل وروسته بي دلومړنيو ښوونځیو فارغان په اووم ټولګي کي منل او کله چي په ۱۳۵٤ هجري لمریز کال دښوونې او روزنې په نصاب کي بدلون رامینځ ته شو او دزده کړو لومړني (ابتدائیه) دوره اتم ټولګي پوري شوه، نودي مدرسي هم داتم ټولګي فارغان په نهم ټولګي کي دزده کړي له پاره منل او له دولسم ټولګي څخه به فارغېدل. دي مدرسي دفارياب، بادغیس او جوزجان ولایتونو طالبان او زده کوونکي ددیني زده کړو له پاره منل. د زده کړي ټول لګښتونه ددولت له خوا برابرېدل.

تخارستان مدرسه:

دغه مدرسه په ۱۳۱۸ هجري لمریز کال دمولوي غلام سرور په اهتمام دخلکو په مالي مرستو دکندوز په ولایت کي جوړه شوه. تر ۱۳۳۸ هجري لمریز کال پوري بي ټول لګښتونه دسیمي دیندارو خاکو له خوا برابرېدل. په دغه کال مدرسه رسماً په دولت پوري وتړل شوه. دمځه بي له لومړي ټولګي څخه زده کوونکي دديني علومو د زده کړي له پاره منل، خو کله چي مدرسه رسمي شوه داتم ټولګي فارغان به بي په نهم ټولګي کي دزده کړي له پاره منل. دغي مدرسي ته په ۱۳۵۱ هجري لمریز کال د کندوز دښار جنوب خواته دوه کیلو متري کي یوه ډېره ښکلي وداني جوړه شوه مدرسي پر لیلي برسېره یوه مجهزه کتابخانه هم درلوده په دي مدرسه کي دکندوز، تخار، بدخشان او بغلان دولایتونو زده کوونکو ددیني علومو زده کړه کوله او دوي ته پرجیب خرڅ برسېره دزده کړي هر ډول سهولتونه برابروو.

امام ابوحنیفه مدرسه:

دغه مدرسه په۱۳۲۳ هجري لمریز کال په کابل کي دښوونې او روزنې دوزارت له خوا جوړه شوه. پر دغه مدرسي باندي دتاسیس په وخت کي د (شرعیه مدرسه) نوم کېښودل شو او بیا شل کاله وروسته د امام ابوحنیفه په نوم ونومول شوه. په پیل کي بي د شپږم ټولګي فارغان په اووم ټولګي کي دزده کړي له پاره منل او زده کوونکي به له دولسم ټولګي څخه فارغېدل وروسته بي بیا داتم ټولګي فارغان په نهم ټولګي کي دزده کړي له پاره منل او له دولسم ټولګي څخه به تر فراغت وروسته بي له کانکور ازموینې څخه دکابل پوهنتون دشرعیاتو په پوهنځي کي داخلېدل. دغي مدرسي خپله لومړني دوره فارغان چي شمېر بي (۲۲) تنه وو، په ۱۳۲۹ هجري لمریز کال ټولني ته وړاندي کړل. دیوي احصایي له مخي دي مدرسي تر ۱۳٦۳ هجري لمریز کال پوري ټول (۱٤۷۰) تنه له دولسم ټولګي څخه فارغ کړي دي. دي مدرسي لویه، کتابخانه او لیلیه هم درلوده او دزده کوونکو له پاره بي دزده کړي ټول سهولتونه برابر کړي وو.

محمدیه مدرسه:

دا مدرسه په ۱۳۵۲ هجري لمریز کال دښوونې او روزنې دوزارت له خوا په کندهار کي جوړه شوه. دغي مدرسي په لومړیو وختونو کي دشپږم ټولګي فارغان دمدرسي په پنځم ټولګي کي دزده کړي له پاره منل وروسته چي د زده کړي لومړني دوره تر اتم ټولګي پوري شوه، نو دي مدرسي هم داتم ټولګي فارغان په نهم ټولګي کي دزده کړي له پاره قبلول. په ۱۳۵۸ هجري لمریز کال بي لومړي دوره فارغان چي شمېر بي (۱۲) تنه و، ټولني ته وړاندي کړل. په دي مدرسه کي دکندهار، هلمند، زابل او ارزګان دولایتونو زده کوونکو ددیني علومو زده کړه کوله. زده کوونکو ته دحکومت له خوا پر جیب خرڅ برسېره نور سهولتونه هم برابر وو.

روحاني مدرسه:

دغه مدرسه په ۱۳۵۱ هجري لمریز کال د دولت له خوا دپکتیا په مرکز ګردېز ښار کي جوړه شوه. مدرسي به پیل کي دلومړنیو ښوونځیو زده کوونکي ددني علمو دزده کړي له پاره منل وروسته له ۱۳۵۳ هجري لمریز کال څخه بي داتم ټولګي فارغان په نهم ټولګي کي دزده کړي له پاره منل او له دولسم ټولګي څخه به فارغېدل. په دغه مدرسه کي دپکتیا، غزني او پکتیکا ولایتونو زده کوونکو ددیني علومو زده کړه کوله او دحکومت له خوا دوړته زده کړي سهولتونه برابرېدل.

دشریعه علومو مدرسه:

دغه مدرسه د پوهني د وزارت له خوا په ۱۳۲۳ هجري لمریز کال په پغمان کي جوړه شوي وه. په درسي نصاب کي بي تفسیر، تجوید، حدیث، عقاید، فقه، فرایض او دحدیثو اصول داصلي مضامینو په توګه او ځیني عصري مضامین لکه تاریخ، جغرافیه، ریاضي، فزیك، کیمیا او بیولوژي دفرعي مضامینو په توګه تدریس کېدل. په دي مدرسه کي به زده کوونکي دلومړني تعلیمي دوري له بشپړولو څخه وروسته داخلېدل او تر شپږ کلني دیني زده کړي وروسته به دبکلوریا معادل سند ورکول کېده او فارغان به بي ځیني دکابل پوهنتون دشرعیاتو په پوهنځي کي بي د کانکور له ازموینې څخه شاملېدل او ځیني په ښوونځیو کي ددینیاتو دښوونکو په توګه مقررېدل. مدرسي لیلیه درلوده او دزده کړي ټول لګښتونه دحکومت له خوا برابرېدل. دغه مدرسه په ۱۳٤۳ هجري لمریز کال دابوحنیفه مدرسي په نوم ونومول شوه.

دشرعیاتو پوهنځی:

د لوړو دیني زده کړو په منظور په ۱۳۳۰ هجري لمریز کال دکابل پوهنتون په چوکاټ کي دشرعیاتو دپوهنځي په نوم یوه تعلیمي مؤسسه رامینځ ته شوه. دا پوهنځی په پیل کي دحقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي پوري وتړل شو. په دي پوهنځي کي دلوړو دیني زده کړو محصلین دشرعیه علومو دمدرسي فارغان وو چي بي له کانکور ازموینې په پوهنځي کي شامل شوي وو. پوهنځی په ۱۳۲۲ هجري لمریز کال دحقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه بیل او مولانا عبدالحق بي درئیس په توګه وټاکل شو. په دي پوهنځي کي دزده کړي موده څلور کاله وه. او په پیل کي بي درسي نصاب کي شرعي او حقوقي مضامین شامل وو او چي دوخت دمشهورو عالمانو له خوا تدریس کېدل. دي پوهنځي دشرعیاتو په نامه یوه مجله هم خپروله چي تر ۱۳۵۲ هجري لمریز کال پوري خپره شوه دشرعیاتو پوهنځي په ۱۳۵۱ هجري لمریز کال کي دا لاندي اته دیپارټمنټونه (څانګي) درلودې: ۱- دتفسیر دیپارټمنټ ۲- دحدیث دیپارټمنټ ۳- دفقهي او مقایسوي حقوقو دیپارټمنټ ٤- دغرب حقوقو دیپارټمنټ ۵- دخارجي ژبو دیپارټمنټ ٦- دعقلي علومو دیپارټمنټ ۷- داجتماعي علومو دیپارټمنټ ۸- داصول فقه دیپارټمنټ په ۱۳۵۷ هجري لمریز کال د شرعیاتو د پوهنځي اته دیپارټمنټونه په دریو دیپارټمنټونو کي مدغم شول: ۱- دتفسیر او حدیثو دیپارټمنټ ۲- دفقه او اصول فقه دیپارټمنټ ۳- د عقیدي او فلسفي دیپارټمنټ.

ب: ددیني ښوونې او روزنې غیر رسمي مرکزونه:

په تیر پسې

ددیني ښوونې او روزنې غیر رسمي مرکزونه زموږ په هېواد کي ډېري لرغوني ریښې لري. دا دیني ښوونې او روزنې دا مرکزونه مسجدونه، درسي حلقې او مدرسي دي چي په عنعنوي بڼه پکي طالبان ددیني علومو زده کړه کوي. په دي مرکزونو کي دزده کړي ډېره لرغوني عنعنه او سیستم چي تقریباً اوس هم په ډېر کم توپیر رواج لري، داسي وه چي ماشومان معمولاً لومړني دیني علوم په کورونو یا مسجدونو کي له ملا امامانو زده کولي، او بیا په لوړه سویه به ددیني علومو زده کړه په درسي حلقو او یا مدرسو کي کېده چي دیو مدرس یا څو تنو مدرسینو له خوا به بي دتدریس چاري سرته رسېدلي. درسي حلقي به په سیمه ایزه سطح موجودي وي او څو کلي به په یوه درسي حلقه کي شامل وو. کله کله به طالب مجبور و چي له خپل کلي او یاسیمي څخه لرېو سیمو یا ګاونډي هېواد درسي حلقو یا مدرسو ته دعلم دحاصلولو پسې سفر وکړي. ددغو درسي حلقو او مدارسو لګښتونه به دسیمي دخلکو په مالي مرستو پوره کېدل. طالبانو دټاکل شوي مروج تعلیمي نصاب سره سم دیوه یا څو تنو مشهورو مدرسینو څخه ددیني علومو زده کړه بشپړوله په پاي کي به ددیني عالمانو دیوي خاصي علمي غونډي او ځانګړو مراسمو په ترځ کي چي «دستاربندي» به بي ورته ویله، د «مولوي» علمي مقام یا بري لیك ورکاوه.

د تاریخ په اوږدو کي زموږ هېواد په بېلا بېلو سیمو کي دغه ډول درسي حلقي او دیني مدرسي موجودي وي چي دخلکو په مالي لګښتونو پکي ددیني علومو دزده کړو لړي روانه وه، ډېرو طالبانو پکي خپلي زده کړي سرته رسولي او مشرو مشرو دیني عالمانو له خوا بي دتدریس چاري سرته رسېدلي. دهغو له جملي څخه دلته دېیلګي په توګه دڅه خپلو، هود خپلو او فرزي دمدرسي نومونه اخلو او د غزني دولایت دشلګرد ولسوالي دنور المدارس په لنډي پېژندلو، اکتفا کوو.

نور المدارس:

دا مدرسه دغزني ولایت دشلګر په ولسوالي کي دسیمي دخلکو په مالي مرستو دشور بازار دحضرت صاحب فضل عمر مجددي (چي نور المشایخ مشهوررو) په اهتمام جوړه شوه. دایوه غیر رسمي مدرسه ده چي د تاسیس په لومړیو کلونو کي به کي زده کړه په لومړني او منځني سویه وه. هغه زده کوونکو چي په رسمي ښوونځیو کي به بي دلومړني دوري زده کړه کړي وه، تر ځانګړي ازموینې وروسته به ددغه مدرسي په څلورم ټولګي کي شاملېدل اته کاله به بي نوره دیني زده کړه کوله. په مدرسه کي ټوله زده کړه پنځه لس صنفه وه، عقسم ټولګي فارغ ته د «مولوي» علمي مقام او شهادتنامه ورکول کېدله. دغي مدرسي یو مجهزه لیلیه هم درلوده او دهېواد له لرې لرې سیمو څخه به ورته ددیني علومو طالبان دزده کړي له پاره راتلل،مدرسي ټول لګښتونه دسیمي دخلکو په مالي مرستو پوره کول،مدرسي په خپل تشکیل کي یو رئیس او یو منتظم درلود. دغه منتظم به پخپله درئیس یا سر مدرس له خوا ټاکل کېده او درئیس په غیابت کي به بي ټولي تدریسي او اداري چاري اداره کولي په مدرسي کي زیات شمېر دیني عالمان په تدریس بوخت وو، زیات شمېر اداري مامورین او ملازمین کارلودل چي معاشونه بي د مدرسي له بودجي څخه چي دخلکو له مرستو او عشر څخه راټولېدله ورکول کېدله. دغه مدرسه په افغانستان کي دکمونستي رژیم له راتګ څخه وروسته وتړل شوه زیاتره مدرسین او طالبان بي بندیان او ځینو په وسله وال جهاد کي برخه واخیسته او ځینو بي هجرت وکړ.

ماخذونه

د دریم څپرکي (فصل) په لیکنه کي په مجموعي توګه له دي لاندي اثارو څخه استفاده شوي ده. (۱) دافغانستان دمعارف تاریخ، دواکتر سید محمد یوسف علمي او پاینده محمد زهیر تالیف، د ۱۳۳۹ هـ. ش کال چاپ. (۲) دافغانستان پوهنه په وروستیو پنځوسو کلونو کي دښوونې او روزنې وزارت د ۱۳٤۹ هـ. ش کال چاپ. (۳) کانون هاي علوم وثقافت اسلامي در افغانستان، دمحمد یوسف ارزق تالیف، ۱۳۷۰ هجري لمریز کال.(٤) سیر کتابخانه ها در افغانستان، دنیلاب رحیمي تالیف، ۱۳٦۱ هـ. ش کال چاپ.
(۵) له ځینو علمي او فرهنګي شخصیتونو سره مرکي.(٦) زما خپل یادداشتونه.

اسلام و ازادي انساني

تتبع ونگارش «مولانا زاده»

پیوسته به گذشته

اگر عقد قبول باشد و باداد و گرفت اگر عقد نکاح باشد و یا ازدواج واین حریتي است که اسلام انرا همینطور بغرض صحت عقد شرط میداند، این حریت حریتي است که از هر نوع انحراف و نقصان بد ور رفته است این حریت موجه و هدایت شده است که بالعموم به مبنا، عقد و حریت و معامله انساني اقرار نماید، در صورتیکه براي حریت معاملات همین توصیه اسلامي میباشد در غیر ان اثري از انسانیت در انسان پیدا نمیتواند شد، پس از این جهت اساس اختیار و حریت انساني دانش و فهم کامل سنجش درست یکچیز و بعد ترجیح دادن یکجانب است بهتر انستکه باازادي مست و مدهوش و امثال انان نام ازادي داده و گرفته نشود. زیرا این اساس متذکره فوق در کودك و مراهق به تکامل نرسیده و درمست و مدهوش ومجبور از بین رفته است گرچه شخصي مجبور در عقل عیب و نقصي ندارد، لیکن چون او باختیار خودش گذاشته نشده لذا حکمش شرعاً تغیر مییابد. در معاملات معني هدایت و رهنمایي اسلامي بحریت و ازادي این نیست که دایره و حدود حریت را محدود و تنگ میسازد و یا مقید میگرداند. بلکه در حقیقت اسلام مفهوم اصلي حریت را تطبیق مینماید جانب دیگري از حریت در معاملات نیز وجود دارد که اسلام انرا هم در نظر گرفته است و ان اینست که در قسمت عقد طرفین معامله یك بدیگري ضرر نرساند و نه باهم از دغـا و فریب کاربگیرند و نه از راه خیانت پیشایند.

و اما درین مورد اسلام از کسي تضمین نمیگرد بلکه از طریق نماز، روزه و زکات و حج انقدر ترس از خداوند را تزریق میکند که همین خود خوف از خداوند حیثیت حکم څارندوي برانسانرا پیدا میکند و درمعامله انسان سزا وار اعتماد میگرداند. بنابران معامله مشروعه ازادي و حریت واضح و اشکار انساني است که چلش و صحت ان مشروط براین است که نه در ان یکسي ضرري باشد و نه یکدام وقتي حریت در معامله بادرك سلیم و فکر کامل متعلق میگردد و دفع ضرر حفظ معامله از غدر و فریب بترس و خوف خداوند مربوط میشود. پس بنا بران بخاطریکه در انسان خصوصیات انساني بطور کامل جلوه گرشود و انسان تهذیب عالي بي داشته باشد و باز بخاطریکه جامعه و انساني از عوامل هر نوع اضطراب، و مجادله در امان ماند، ضرور است که عقیده و شریعت هر دو در ان وجود داشته باشد چه شریعت بدون عقیده جریان نمیتواند یافت و انکه بعظمت خداوند ایمان ندارد الکسي که برمعتقدات اسلام باورش نباشد در نظر اسلام قابل اعتماد شناخته نمیشود و دایماً از حریت سوء استفاده مینماید و ازان در راه اذیت و ازار انسانها کار میگیرد و این بدان ماند که در بدني روح نباشد و بدون روح بدن واضحاً حرکتي نمیتواند کرد و اگربذریعه عامل خارجي حرکت داده شود باز هم بهمان اندازه ایکه تحت تاثیر قرار گرفته حرکت میکند و بس همچنین قوانین بدون عقیده نیز بسلطه قواي (حکومتي) مربوط میشود. از همین جهت ان قوانیني که زاده فکر بشري است و پشتیبان و محافظ عقیدوي ندارد، بکار انداختن و عملي نمودن ان بمراقبت پولیس و ژاندارم موقوف میباشد. ما انسانها باوجود یکه به شریعت و قانون محتاجیم بایمان و عقیده بخداي بزرگ و واحد هم ضرورت داریم، هر گاه خواسته باشم از انواع ازادیهاي خود بدون خوف و ترس استفاده کلي نمایم باید ازادیهاي خود را طوري بکار اندازیم که اسلام بما هدایت فرموده است چه اسلام دیني نیست که گذشت و فنا شد، بلکه ان تاویلات و داستانهاي اسلام گذشت و سپري شد که ازسبدي اسلام تحت بعضي سیاستهاي معین او شرایط مخصوص بمیان امده بود مبادي اسلام مبادي انسانیت و ادمیت است و در هر جا و هرکجا که انسان موجود باشد این مبادي به او هست البته میتواند شد که امروز یا فردا از ان مسائل نوي بمیان اورد این امر مجاز است مشروط برانکه بامبادي اسلام موافق و برابر باشد و خلاف خصایص انساني و تهذیب انساني نباشد، قران کریم در این مورد میفرماید: خداوند بعدل و احسان یا اقربا امر میفرماید و از منکر و بغي و اعمال خلاف انسانیت و تجاوز و تعدي بردیگري منع مینماید. در این ایه مبارك که بعدل و احسان انسانرا مکلف گردانیده و از اعمال خلاف تهذیب انساني مخالفت وبازپرس میدارد، نه وقت معیني تعین شده و نه مردم معیني رانشان داده و نه یکدام مقام خاصي اشاره شده است بلکه در هر وقت و هرجا از هر کسي خواسته شده که عدل ورزد، احسان نماید واز اعمال و گفتار و رفتار خلاف انسانیت دریغ نماید. بناً انکسي که بخداوند ایمان داشته و معتقد با اسلام است و مرجع نیست و صاحب سلوك انساني است از مبادي اسلام پیروي و اطاعت میکند و انکه از وجود خدا انکار میکند و بر مال و ابروو نفس و اولاد دیگري تعرض را بخود مباح میداند شخصي است که باګروه وجمعیت حیوانات نزدیك است.

د کلګانو په محاذ د اسلامي دولت دمخالفینو لوی برید په شا وتمبول شو

دجبهي له لمړیو کرښو څخه دشریعت خبریال دبیو مخابروي تماس په ترځ کي خبر راکړ چي دجمعي په ورځ دکابل په شمال کي دکلکانو په محاذ د اسلامي دولت دمخالفینو یوه پراخه حمله په شاوتمبول شوه. په خبر کي ویل شویدي چي داسلامي اردو د متقابل ځواب په اثر دائتلافي جبهي لس تنه مړه او پنځه ویشت تنه سخت ټپیان شویدي. خبر زیاتوي چي مجاهدینو ته ددښمن شل میله کلاشنکوف اوه میله پیکا ماشیندارې پنځه میله راکټ انداز دوه پایي هشتاد ودو توپونه، لس صندوقه دکلاشنکوف مرمي پنځوس فیره راکټ او په ډېره پیمانه لوژستیکي مواد لاس ته ورغلي دي.

دشریعت دخبریال دیوبل خبر له مخي داسلامي اردو زړورو مجاهدینو تیره ورځ دبادغیس په ولایت کي هم دمخالفینو پر غلچکي برید له ماتي سره مخ کړیدي چي په نتیجه کي یې دښمن ته دځاني تلفاتو سربیره ډېر مالي زیان هم وراوښتي دي په خبر کي ویل شویدي چي دجګړه مارو مخالفینو مورال بالکل لویدلي او هره ورځ دمخالفینو لسګونه وسله وال افراد یا داسلامي اردو سره یوځاي کیږي او یا هم دجګړي له لمړیو لیکو څخه تیښته کوي.

دننګرهار په ولایت کي دیوې لیسې اویو لمړنی ښوونځي د ودانۍ کار پیل شو

له جلال اباد نه دشریعت اوونیزې خبریال خبر راکړ چي تیره ورځ دبچیر او اګام دلیسي نوي ودانۍ دتومړي ولسوالي د ولسوال مولوي حزب الله لخوا پرانستل شوه او د زده کوونکو داستفادي وړ وګرځیده دلیسي دپرانستلو په مراسمو کي چي ګڼ شمیر علماو او سپین ږیرو په کي ګډون درلود دیرخه والو له خوا دطالبانو له اسلامي تحریک سره بشپړ ملاتړ اعلان شو.

دا ودانۍ چي لس خوني لري په پاخه او اساسي ډول جوړه شویده دیو بل خبر له مخي دچپرهار ولسوالي دلومړني ښوونځي ودانۍ هم دننګرهار ولایت دښوونې او روزنې د رئیس مولوي کلیم الله حقاني لخوا پرانستل شوه.

دا ودانۍ چي اته خوني او لازم تجهیزات لري د UNHCR او د هیواد دبیا رغونې دموسسو لخوا په پاخه او اساسي توګه جوړه شویده.

درې تنه پخواني قوماندانان اسلامي دولت ته تسلیم شول

دکنړ له ولایت نه دشریعت خبریال خبر راکړ چي : تیره ورځ د نور ګل دولسوالي درې تنه پخواني قوماندانان دخپلو وسلو سره دطالبانو له اسلامي تحریک سره یو ځاي شول اودهر ډول همکارۍ اعلان یې کړیدي.

په خبر کي ویل شویدي چي قوماندان سید اصغر، قوماندان نقیب الرحمان او قوماندان رحمان خان دنور ګل ولسوالي ولسوال مولوي ګل پاچا ته مراجعه وکړه او خپله وسله یې ورته تسلیم کړه.

همدا راز دکنړ ولایت دځمرکي په ولسوالي کي لخلور میله کلاشنکوفونه یو دولتي تراکتور او یو عراده موټر سایکل دامنیتي موظفینو لخوا ونیول شول.

همه امور مطابق...

در وزارت اطلاعات وکلتور نیز با در نظر داشت مقررات واصول همه امور تنظیم شده واز مصارف ګزاف که قبلاً صورت میګرفت جلوګیري شده است. تقریباً در کمتر از دو ماه تمام مصارف خدماتي وترانسپورتي وزارت اطلاعات وکلتور از ۱۳ میلیون افغاني تجاوز نکرده است در حالیکه قبلاً تنها مصارف خدماتي وزارت روزانه به پنج ، شش میلیون افغاني میرسید و این مصارف هم بي مورد بود و با موازین وضع شده مطابقت نداشت. اکنون همه کار ها باروحیه جلوګیري از مصارف بي جا ادامه دارد وي ګفت: قبلاً در وزارت اطلاعات وکلتور برق وجود نداشت و اژانس اطلاعاتي باختر وغیره ریاست ها ازین ناحیه با مشکلات مواجه بودند. اخیراً با مصارف کم برق وزارت تأمین ګردیده وحتي پشتني تجارتي بانک، سپین زرو موسسات اطراف ان نیز از برق مستفید ګردیده اند.

محترم هوتکي افزود : دستګاه پنجصد کیلو واته رادیو در پلچرخي غیر فعال بود وصرف از رادیو صد کیلو واته استفاده میشد ولي ما توانستیم اخیراً به همکاري انجنیران رادیو تلویزیون که باروحیه اسلامي ووطن دوستي اراسته اند دستګاه متذکره را فعال نمائیم واکنون نشرات رادیو بیرون از کشور نیز مورد استفاده قرار میګرد. مصارف ګزاف (یاك ونیم) ملیارد افغاني الیشه اداره دولت سابقه براي این کار تخصیص داده بود.

موصوف علاوه کرد : نشریه هاي وزین انیس وهیواد که قبلاً هفته وارهم از چاپ بیرون نمي شدند اکنون هفته سه بار چاپ میشود و بانشر مطالب با کیفیت تر در خدمت مردم قرار دارد. روز نامه کابل تایز نیز در اینده نزدیک دوباره به نشرات خویش اغاز خواهد کرد. هم چنان در مورد احیاي مجدد موزیم و ارشیف ملي که از جمله سرمایه هاي قیمت بهاي ملي شمرده میشوند، قدمهاي برداشته شده و تلاش میشود تا کتابخانه عامه نیز دوباره افتتاح ګردد.

وي افزود : غرض احیا وفعال نمودن مجدد مطابع دولتي که یکي از مجهز ترین مطابع در نوع خود محسوب میګردید فعالیت جریان دارد و فعلاً ما با امکانات و وسایل طباعتي محدود که از چور وچپاول و تباهي نجات یافته اند مطابع متذکره را فعال نموده ایم و بعداً براي تجهیز تخنیکي ان مطابق امکانات مالي دولت اقدامات صورت خواهد ګرفت.

پیمان ناتو...

ناتو بخاطر حل ملاحظات روسیه با ان کشور مذاکراتي انجام خواهد داد.

پریما کوف وزیر خارجه روسیه بعد از اشتراك در اجلاس ناتو در کنفرانس خبري به خبر نګاران ګفت که کشور وي اماده است باناتو روي لایحه تجویز شده به مذاکرات بنشیند، روسیه مي ګوید که توسیع ناتو تا کشور هاي اروپاي شرقي، سلامتي روسیه را تهدید میکند. به این اساس روسیه در باره احیاي مجدد پیمان وارسا تحرر مي نماید.

خواړه او روغتیا

دابو واقعیت دي چي ښه خواړه او مکلف خواړه انسان له ډول ډول ناروغیو څخه ساتي خوك چي په ورځنیو خوړو کي تنوع او تناوب مراعات کړي کیداي شي دزیاتو ناروغیو په مقابل کي مقاومت پیدا کړي او دیوه صحتمند او سالم غړي په توګه ټولني ته خدمت وکړي.

خواړه او روغتیا هغه ګټور کتاب دي چي په دي وروستیو وختونو کي محترم ږګروال حاجي صالح ګل صالح شینواري لیکلي او چاپ کړي دي، په دي کتاب کي دبیلو بیلو غذایي موادو هغه خصوصیات او ښیګړي په ګوته شوي دي چي مور یې په ورځني ژوند کي استعمالوو، زه په داسي حال کي چي ددي کتاب دچاپ له امله محترم حاجي صالح ګل شینواري ته مبارکي وایم درنو لوستونکو ته بلنه ورکوم چي ددي کتاب په لوستلو سره دخپلو ورځنیو خوړو په اړه ګټور معلومات ترلاسه کړي.

(الحروال)

نشست سالانه...

اطلاعات واصله: درین اعلامیه کشور اسرائیل شدیداً تقبیح ګردیده و ګفته شده است اسرائیل میخواهد بار دیګر در شرق میانه جنګ اغاز ګردد. درین اعلامیه که بیش از پنجاه کشور انرا امضا کرده امده است: قضیه فلسطین به تمام مسلمانان مربوط است هم چنان در اعلامیه به اسرائیل هوشدار داده شده است تا به فلسطیني ها مذاکرات را اغاز نماید و باسوریه در مورد سرنوشت ارتفاعات جولان مذاکره کند.

دپکتیا ولایت په ...

قوماندانانو برخه اخستي وه. غونډه دقرانکریم د څو مبارکو ایتونو په لوستلو سره پیل شوه وریسي یو شمیر عالمانو وینااوي وکړي او دطالبانو له اسلامي تحریك سره یې د هرډول همکاریو وعده ورکړه. په پاي کي د مولانا فضل الرحمن سعید دیګرۍ ترلو مراسم په داسي حال کي سرته ورسیدل چي د حاضرینو له خوا په ډېري خوشالي بدرګه کیدل.

کمیسون اروپا...

میرسد و تعداد زیاد افرادي که در داخل افغانستان اواره شده اند ازین مواد در پروګرام هاي (کاردر بدل غذا) مستفید خواهند شد و مقدار زیاد ګندم مذکور به نانوایي هاي کابل، کندهار و جلال اباد اختصاص مي یابد که نان ارزان قیمت براي نیازمندان تهیه میشاید.

دننګرهار دکوټ...

دوه میله پي کا، او د راکټ وه سوه مرمي، دهاوان سل مرمي، دپي کا لس صندوقه مرمي، یو بکس لاسي بمونه او دهشتادو دو توپ پنځوس مرمي شاملي دي.

دحضرت عثمان (رض)...

ورکي شوي چي پخواني شوروي له مینځه لاړ. دریوټ په حواله: دا ورکي شوي پاڼي په دوه نویم کال کي دلندن په یوه لیلام کي پلورل شویدي. ازبکان نه غواړي چي تر پولیس دا خبر ورسوي خو دا غوښتنه کوي چي ددي پاڼي اخستونکي ورته ووایي چي اوس دقران مجید دا ورکي شوي پاڼي چیرې او له چاسره دي

په کابل کي مرستندویه...

دبشري مرستو په رسولو غور او بحث وشو خبر زیاتوي په دي کښته کي مرستندویو موسسو ومنله چي په دي لړ کي به له خپلو ټولو امکاناتو سره بشري او تخنیکي مرستو ته دوام ورکړي.

په کابل کي هره...

امله زموږ کار ډیر ورو او خطرناك و. مینع زیانه کړه: دغه ماشین دشلو تنو کار په براخې توګه کوي او وخت هم ډیر لږ نیسي، خو دغه ماشین پخپله ماین پیدا کولي نشي بلکي اول به یې دماین پاکي ماهران په ګوته کوي. دغه ماشین هغه ځایونه هم سپيڅ چي په لاسونو سپړل کیږي.

دیوه رپوټ په اساس هره میاشت نژدې شپږ سوه تنه افغانان دماینونو ښکار کیږي. په کابل کي دومره زیات ماینونه دي چي تر راتلونکو پنځو کلونو پوري به هم پاك نشي

اسرائیل در...

مبصرین درین رابطه میګویند که فعالیت هاي اسرائیل درین جهت خشونت امیز وقهر انګیز بوده منافع صلح و امنیت را در منطقه سبوتاژ میکند. از یترو شاید در منطقه بحران برزګي به وجود امد. رو بهمرفته فرانسه به اسرائیل اخطار داده که اسرائیل با اتش بازي نکند و پلان خانه سازي در مناطق اعراب فلسطین را معطل قرار دهد. یك نطاق وزارت خارجه فرانسه اظهار داشت که این عمل اسرائیل منافي قرار داد صلح بین فلسطیني ها و اسرائیل است. در قرار داد صلح امده است که حیثیت بیت المقدس باید به حال خودش ګذاشته شود و اسکان یهودیان در ان بحران جدیدي زادر تحقق صلح بوجود مي اورد.

دچا ملګرتیا...

کي فرماني «زما د رحمت څخه مه نا امیده کیږي نو پدي اساس دالله د رحمت څخه نا امیده کیدل ندي یکار هغه یو داسي مهربانه ذات دي چي کله یې چاته د رحمت اراده وشي نو پرهغوي خپل رحمت داسي وزوي لکه په موټر افغانانو باندي یې چي د رحمت باران وکړ او هغه دا چي دوخت نا اهله او بې دینه عناصر یې محوه او تباه او پرځاي یې داسلامي مدرسو د طالبانو تحریك را څرګند کړ.

الف : داسي تحریك چي د پخواني حکومت دهغه ظالم او جابر نظام پر ځاي یې په خپلو سیمو کي دعدل او انصاف اسلامي نظام نافذ کړ.

ب : داسي تحریك چي دپخواني حکومت دپاټك پرځاي یې قوم او ملت ته داطمینان او حفاظت مرکز جوړ کړ.

ج : داسي تحریك چي دپخواني حکومت دافرادو دغلا، چور، جواري او بې عفتي پر ځاي یې ملت ته امنیت، ډاډ، اطمینان او عفت ور په برخه کړ.

د : داسي تحریك چي دپخواني حکومت د جاهل او ناپوه مسول پرځاي یې په ادارو کي عالم او په دین پوه شخصیت مقرر کړ.

هـ : داسي تحریك چي دپخواني حکومت د شرابو، چرسو او فحاشیوو پر ځاي یې دیني مدرسه او جومات جوړ کړ.

و : داسي حکومت چي دپخواني حکومت دبې پوښتني تور دور پر ځاي یې یو داسي دور چي هر سړي له هر چانه په هر وخت کي دخپل حق غوښتنه کولاي شي رامنځته کړ.

ز : او بالاخره داسي تحریك چي زموږ دیو نیم میلیون شهیدانو هغه ارمان یې چي پخواني حکومت په اویو لاهو کړي و پوره کړ. نو بیا ولي دیو داسي تحریك ملګرتیا ونکړو چي زموږ دیو نیم میلیون شهیدانو ارمان یې پوره کړ؟

دکانو او صنایعو وزیر...

ګاموته واخلو هغه سیمي چي معادن په کي موندل کیږي اکثره دطالبانو داسلامي تحریك ترکنترول لاندي دي دمعادنو په سروي میلونونه افغاني خرڅ شویدي خو داستخراج په هکله هیڅ نه دي شوي موږ پریکړه وکړه چي لومړي هغه ګانونه راوباسو چي په اسانه راویستل کیږي دهمدي هدف لپاره مو دري هیئتونه وټاکل چي یوبې مرکز کي کار وکړي دوهم یې ختیځو ولایتونو ته سفر وکړي او دریم هیئت دهیواد جنوب لویدیځو سیمو ته ولاړ دپریکړي سره سم یو هیئت ختیځو ولایتونو ته ورغي هلته یې دډېرو سکرو دتیار زیرمو، ګچ، شوکانو اود جګدلك دیاقوتو پشبي راپور له ځانه سره راووړ چي په همدي ورځو کي به پري کار روان شي.

جنوب لویدیځي حوزي ته زما په شمول پوهیشت چي مدیر محمد طاهر (انوري)، مولوي عبدالجلیل او مولوي وکیل احمد (متوکل) هم په کي ګډون درلود ورغي او سروي مو وکړه هلته یوه سیمه کي چي اویا کیلو متره اوږدوالي او شل کیلو متره عرض لري یو ډول تیږه وجود لري چي پخوا تري ډېره ناوړه استفاده کیدله او پخوانیو نش په نامه مجاهدینو به یو موټر په ٦ زره کلداري پلورلو خو اوس یې سوداګر موټر په اووه لکه کلدارو له موټر څخه غواړي موټر ددي تیږي او حیتو نورو کانونو په هکله په کندهار کي له امیر المومنین سره وکتل هغوي راته وویل چي هر څه کي چي داسلام او ملت ګټه وي هغسي وکړي.

حاجي احمد جان دیوې بلي پوښتني په حواب کي وویل چي دمعادنو دویستلو لپاره دشپږ میلونه کلدارو په ارزښت وسایلو ته اړتیا ده خو الحمد لله له دي جملي نه مو په کابل کي ډېر وسایل پیدا کړل چي تر لږ ترمیم وروسته کار ته چمتو دي او څه نور لا دترمیم لاندي دي. د کانواو صنایعو وزیر ددي پوښتني په ځواب کي چي معادنوته دبازار د موندلو په هکله مو څه هڅي کړیدي او که نه؟ داسي وویل: موږ په داخل کي هم له ګڼو سوداګرو سره تماس نیولي دي خو ددي لپاره سوداګر په داخل کي زموږ څخه مال ډېر ارزانه غواړي نو زه په دي هڅه کي شوم چي موږ په خپله مستقیماً له بهر نړي سره ارتباط ونیسو او کراچي ته زما اوسني سفر دهمدي مقصد لپاره و زه غواړم چي په کراچي کي دخپلو کارونو او ارتباطاتو لپاره نماینده ګي خلاصه کړم. حاجي احمد جان دصنایعو په هکله دیوې پوښتني په ځواب کي وویل: چي موږ ټولو افغاني سوداګرو ته وایو چي ناسي سوداګري کوي په بهر نړي کي له هر ډول ستونزو سره مخامخ یې راشي په خپل هیواد کي فابریکي جوړي کړي دلته ځانته زمینه برابره کړي موږ نه ټکس غواړو او نه نور څه له دي سربیره هرډول مرستي ته مو چمتو یو. ټولو سوداګرو ته اعلان کوو چي راشي په پوره اطمنان سره په افغانستان کي خپله پانګه په کار واچوي. موږ په نظر کي لرو چي دهیواد حیني فابریکي چي په اتلس کلنه جګړه کي نړي ګنار نه دي احیستل شوي او زیانمني شویدي په کرایه ورکړو او پیسي به یې په قانوني ډول دولت ته تحویل شي.

په مشرقي ولایاتو...

الحمدلله دطالبانو داسلامي تحریك له خوا له بشپړي ماتي سره مخامخ شول او په ډېرو تلفاتو سربیره په تیښته وتښتیدل چي بیا دا کار نه دي تکرار شوي او که تکرار شي نو له همداسي رسوا ناکامي سره به مخامخ شي.

پوښتنه: په مشرقي ولایاتو کي دمخدره موادو دکښت په اړه معلومات ورکړئ؟

ځواب: دمخدره موادو کښت داسلام دسپیڅلي دین له نظره حرام دي موږ پر له دي چي دچا دخوښي لپاره اقدام وکړو داسلام دحکم په اساس مو دمخدره موادو کرنه بنده کړیده ځکه چي ددي ولایتونو اوسیدونکي ډېر ټیټسمن او غریب دي که ملګري ملتونه او دمخدره موادو دمخنیوي خیریه موسسي له دوي سره اقتصادي همکاري وکړي فکر کوم چي د مخدره موادو مخنیوي په هکله ښه نتیجه ورکړي.

پوښتنه: دننګرهار په ادارو کي موږ ډېر کمیست راوست همدا راز ډېر مامورین موسلفك کړل ددي لامل څه دي؟

ځواب: دا تغیرات بواځي په ننګرهار کي نه بلکه داسلامي دولت ترکنټرول لاندي ټولو ولایاتو کي راغلي دي دمرکز لخوا یو اداري کمیسیون ټاکل شویدي دي کمیسیون دکندهار په شمول په ټولو ولایاتو کي مناسب تغیر راوستي دي، او لامل یې دادي چي پخوا خو په هر ولایت کي پوستونه د تنظیمي سهمیې په اساس ویشل شوي وو هرچانه چي ریاست نه ورسیدلي دهغوي دخوښي او محافظه کاري لپاره ورته نوي ریاست جوړ شوي دي کمیسیون هغه ریاستونه او اداري له منځه وړي دي چي غیر ضروري او دهیواد داقتصاد په اوږو اضافي برج و او هغه مامورین موسلفك کړي دي چي ضرورت ورته نه و.

پوښتنه: دلورو تنظیمونو تیك، صالح او مستعد افراد چي ناسي سره په ادارو کي اویا په نظامي چوکاټ کي دکار هیله وکړي ستاسي ځواب څه دي؟

ځواب: په تیرو دوه کلونو کي طالبانو دا ثابته کړیده چي ددوي هدف بواځي او بواځي اسلام دي او دا دهر مسلمان دنده او ارمان دي موږ هرچانه چي دا هدف ولري په هیواد کي دسولي امنیت او عدالت غوښتونکي وي بلنه ورکوو چي دطالبانو اسلامي تحریك خپل تحریك وبولي همدا اوس د پخوانیو تنظیمونو ګڼ شمیر مخلص او بادیانته غړي زموږ سره په صفونو کي د اسلام او هیواد د ترقي لپاره کار کوي.

پوښتنه: له یوې خوا دننګرهار ولایت دتصدي ریاستونو عوائد له پخوا نه څوچنده ډېر شویدي له بلي خوا ناسي دبریښنا او ټیلفون قیمت نور هم لوړ کړ ددي وجه څه ده؟

ځواب: دطالبانو اسلامي تحریك کوشش کوي چي خپلي اداري دبیت المال له لاري تمویل کړي زموږ وطن وران دي نور عوائد نه لرو اودیو مملکت اداره ډېرو پیسو او امکاناتو ته اړه لري ځکه مو دبریښنا او ټیلفون قیمت لوړ کړ او دا قیمت هم حتي دنورو پرمختللو هیوادونو دبریښنا او ټیلفون دقیمت په انډول ډېر کم دي. داچي د ادارو عوائد مو ډېر شویدي علت یې څرګند دي پخوا نظم نه و ټولي حکومتي اداري شخصي شوي وي او عواید یې هم شخصي وو او دڅو محدودو افرادو په جیب کي لویدل څه به چي له هغوي نه ډېري شوي بیا به یې بانك ته ورکړي خو اوس الحمدلله ټولي پیسي په پوره اما نتداري بانك ته تحویلیږي.

سازمان ملل متحد باید ثابت سازد که در تصمیم خود مستقل است

بعد از انکه تحریك اسلامي طالبان به نصرت خداوند متعال بساط ظلم و استبداد را از کشور پیچید و کابل به دست نیروهاي پرتوان این تحریك از شرمفسدین نجات یافت فکر مي شد که ملل متحد حکومت اسلامي جدید التشکیل را هرچه زود تر به رسمیت خواهد شناخت زیرا سازمان ملل همواره شعار میداد که مادر افغانستان خواهان خاتمه جنګ، استقرار صلح و امنیت هستیم و تحریك اسلامي طالبان به این شعارها جامه عمل پوشانید ملل متحد به خاطر برقراري صلح و امنیت، جمع اسلحه وجلو ګیري از مواد مخدر میلونها دالر به خرچ دادا ما هیچ نتیجه بران مرتب نه شد اما تحریك اسلامي طالبان بدون اینکه چشم امید را به کسي دوخته باشد این را وظیفه خود میداند تا ملت خود را از چنګال جانیان وجفا پیشه وران نجات دهد، همه اسلحه و مهمات تسلیم ذخیره اردوي اسلامي شود و به خاطر تنفیذ حکم شریعت غراي محمدي (ص) به کشت مواد مخدر مدخن پایان داده شود. که الحمدلله این ارمان ها همه تحقق یافتند ولي باز هم دیده میشود که سازمان ملل متحد در قضیه به رسمیت شناختن حکومت اسلامي جدید التشکیل سهل انګاري مي ورزد که این عمل خود هویت سازمان ملل رازیر سوال قرار مي دهد. افغانها حق دارند از سازمان ملل متحد بپرسند چه عاملي است که این اداره ان کسي رامحیث نماینده افغانستان و ملت افغان در جلسات خود حق شرکت میدهند که حتي ثبوت نماینده ګي دوفیصد مردم افغانستان رانیز نمیتواند داد. چرا نماینده اداره بي رامي پزیرید که ظاهراً ومعناً وجود ندارد و جزاسم ورسم ان هیچ چیز در کالبوتش نمانده است اداره که سمبول مصایب، غدرو خیانت بوده و به اساس ظلم، وحشت وقتل عام مردم بي ګناه بانفرین عام مواجه شد وملت غیور افغان بایك قیام عمومي دست به دست تحریك اسلامي طالبان داده واین قاتلین ملت را از صحنه سیاسي ونظامي طرد نمودند. ایا جهانیان ان سرو صداي ملل متحد را فراموش کرد که در ایام زما مداري اقاي رباني از نقض حقوق بشر حرف میزد ولي اکنون سکوت نموده یکبار دیګر انرا من حیث نماینده ملت افغان مي شناسد.

ملل متحد باید توضیح نماید که چوکي افغانستان را به چه کساني میدهد. براي مؤتلفینیکه چندین سال ملت ما را به اتش ګرفتند. ملل متحد چرا تجاهل عارفانه مینماید همه مي بینند که در بطن ائتلاف انفلاق مهیبي رخ داد و مشتملین ائتلاف اقاي رباني، مسعود، حکمتیار، سیاف هر کدام راه جداګانه را اختیار نمودند و عنقریب است که میکانیزم ائتلاف جدید سکتارستي نیز به سرنوشت سلف خود مواجه ګردد. ایا تحریك اسلامي طالبان که فرزندان راستین این ملت مي باشند واز پشتوانه بي شایبه ملي برخوردار است واضافه از ۷۵ فیصد خاك افغانستان رازیر کنترول دارند ومردم شریف واهالي سمت شمال نیز که از ظلم تفنګداران ان مناطق به ستوه امده اند هرلحظه انتظار استقبال انان را میکنند و همه مردم در مناطق زیر تسلط انان باکمال اطمنان زنده ګي خود را به سرمي برند، تمام شعایر اسلامي و ملي را احیا نموده، عدل و انصاف را تامین نموده حق ندارد از ملت نماینده ګي کند؟!

ملت افغان حتماً این اقدام ملل متحد را زیر سوال قرار داده وان را توهین به اراده خود وعاطفه بشریت میداند که قاتلین انان نماینده انان وانمود ګردد.

ملل متحد باید به حقوق افغانان اعتراف نموده اراده انان را محترم شمرد وچوکي افغانستان که حق مسلم انها است به نماینده ګان واقعي این ملت رنجدیده تسلیم نماید نه به چند افراد محدود اجیرو خود فروخته عمل فعلي این سازمان مغایر قانون دیپلوماسي و نقض صریح کنو انسیون ملل متحد است ایا در قرار داد ملل متحد همچنین ګفته شده که چند فرد خود فروخته و حلقه به ګوش واجیران دشمنان ملت به حیث نماینده ګان واقعي همان ملت پذیرفته شود؟

رانده شدن نماینده ائتلاف از جلسه وزراي خارجه کشور هاي اسلامي چیلنج دیګر است به ملل متحد امروز که کنفرانس کشورهاي اسلامي در جلسه خود نماینده رباني را اجازه نداد فردا از احتمال دورنیست که در جلسه سازمان ملل متحد نیز شرکت ان را وبتونماند. باید از سازمان ملل متحد استفسار شود شما که دولت اسلامي افغانستان را به رسمیت نه مي شناسید چطور میتوان از این اداره ترقع به رسمیت شناختن لوائین خود را داشت. ملل متحد وجامعه بشري باید اذعان داشت که هیچکس نمیتواند برخلاف اراده ملت افغان در کشور ما اقدام نماید و افراد دلخوا و واجیر شان را به ما مسلط سازند این حقیقتي است که به مراتب به تجربه ثابت شده است. ما از سازمان ملل متحد میخواهم تا ثابت سازد که در تصمیم خود مستقل است و حکومتي اسلامي افغانستان رابه رسمیت بشناسد و در غیران قضاوت این سازمان یکطرفه، غیر منصفانه و مغایر قرار داد هاي بین الملل مي باشد.

دا رپوټ...

لیندي دمیاشتي په ۱۸ نیټه دعظیم الشان قران دڅو مبارکو ایتونو په تلاوت پرانستل شوه. دپروژې دپرانستلو په مراسمو کي داسلامي دولت په نمایندګۍ د اریوب ځاځیو ولسوال، دطالبانو داسلامي تحریك مشهور قوماندان مست ملنګ، په پاکستان کي (HELP Germang) د موسسي ډاریکتر ډاکټر لوزیس ګوزد دافغان بیا ودانولو او لوژستیکي خدماتو (A.R.L.0) رئیس حاجي حمید الدین صدیقي او دسیمي سپین ږیرو او مشرانو ګډون کړي و.

خبریال زیاتوي ،علپ جرمني او (A.R.L.0) وموسسو هیئت په دي سفر کي په پکتیا، خوست، پکتیکا وردګو کابل ، غزني او ننګرهار کي اتلس هغه عام المنفعه پروژې هم وکتلې چي ددغو موسسو په مالي مرسته یا بشپړ شوي اویا دبشپړیدو په حال کي دي.

مذاهبه و تماسهاي...

اطلاعات منتشره مي نویسد: دګر جنرال ګل محمد برادر کوچك رسول پهلوان در بادغیس با مقامات مربوط دولت اسلامي افغانستان در تماس بوده و در صدد است تا با اردوي اسلامي ملحق ګردد. خبر نګار مـا مي افزاید: در مناطقکه در دست دوستم و مسعود قرار دارد با حلقات و اشخاص مختلف انها پیوسته مفاهمه و تماس ها جریان دارد و عنقریب نتایج مثبت و مهم به نفع کشور اسلامي به بار خواهد اورد.

یك ویډیو...

خبر مي افزاید: بعد از انکه اطراف دپیو از ماین ها پاك ګردید تخلیه دپیو اغاز شد. طبق یك خبر دیګر در ولسوالي میربچه کوت یك تعداد باشندګان ان محل به رضایت خویش سلاح هاي خود راتسلیم مقامات مربوط دولت اسلامي کردند.

SHARIAT WEEKLY

Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.
PAK-RUPE A/C; CD. No.1694-69
Habib Bank LTD Tehkal Bala Branch
Peshawar Pakistan

یادونه

مهاپي ستاسو ایمان په اجازه درنګري چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

(اداره)

دګډون بیه شپږ میاشتني کالني

پاکستان	Rs.200	Rs.400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا وامریکا	US$75	US$150